**د افغانستان لنډه پېژندنه**

افغانستان ( د افغانانو مېنه ) په مرکزي اسيا کې يو غرنی او په وچه کې راګير هېواد دی.

دا هېواد، چې پنځه زره کلن تاريخ لري، لومړی د آريانا او بيا د خرا سان په نامه ياد شوی ، خو په ۱۱۲٦ لمريز کال کې د احمدشاه بابا د واکمنۍ پر مهال افغانستان د ټولې اريانا او خراسان ځای ونيو.

ځيني مورخين ليکي ، چې د افغاني امپراطورۍ سرحدات ، چې يو وخت يې تر ۱٦ درجو طول البلد پورې پراخوالی درلود، په دقيقه توګه يې ټاکل مشکل کار دی، خو په شرق کې د سرهند نه نيولې ، چې د ډهلي په ۱۵۰ ميلۍ کې پروت دی، په غرب کې تر مشهده پورې ، چې حزر درياب نه په همدې فاصله کې پروت دی او پلنوالی يې د امو له سيند نه نيولې په جنوب کې د فارس تر خليج پورې رسېده.

د احمدشاه بابااميراطوري وار په وار د ده د لمسيانو او بيا دمحمدزيو ورونو د خپلمنځي اختلافاتو په وجه وړه شوه.

د اوسني افغانستان جغرافيايي موقعيت:

د افغانستان شمال او سوېل لوېديځ ډېرې وچې او هوارې سيمې لري او سوېل کې يې د پاکستان پولې ته نږدې شګلنې دښتې پرتې دي.افغانستان په ختيځ او سوېل کې له پاکستان سره ۲٤۳۰ کيلو متره ، په لوېديځ کې له ايران سره ۹۳٦ کيلومتره ، په شمال لوېديځ کې له ترکمنستان سره ۷٤٤ کيلومتره ، په شمال کې له ازبکستان سره ۱۳۷ کيلومتره ، په شمال ختيځ کې له تاجکستان سره ۱۲۰٦ کيلومتره او چين سره د ۷٦ کيلومترو په اوږدوالي پوله لري. افغانستان د ٦۵۲۸٦٤ کيلومتر مربع مساحت په درلودو سره په سيمه کې له چين، ايران او پاکستان څخه وروسته څلورم ستر هېواد دی. دغه هېواد د واحدونو له پلوه پر ۳٤ ولايتونو او ۳۹۸ ولسواليو وېشل شوی دی.

په افغانستان کې جګړې:

افغانانو د تاريخ په اوږدو کې له مقدوني سکندر ، ايراني *صفويانو*، مغولو او نورو سره د هېواد د ازادۍ لپاره جګړې کړې دي.

انګلیس هم له افغانانو سره ډغرې و هلې دي . د افغان –انګلیس لومړۍ جګړه په ۱۲۱۷-۱۲۲۱ لمریزو کلونو کې ، دوهمه جګړه یې په ۱۲۵۷ لمریز کال کې او دریېمه جګړه یې په ۱۲۹۸ لمریز کال کې وه.

افغانانو د افغان-انګلیس تردریېمې جګړې وروسته له انګریزي ښکېلاک څخه خپل استقلال بېرته تر لاسه کړ.

په دغه هېواد کې د ازادۍ له بېرته اخیستو وروسته، په ۱۳۵۷ کال کې د شوروي پلوه خلق او پرچم ګوندونو د کودتا له لارې د هېواد د لومړي جمهور رییس محمد داوود د حکومت تر ړنګېدو پورې ځینې کورنې اړ او دوړونه موجود و، خو بیا هم نسبتا آرامه او د پرمختګ په حال کې و . خو د یادو ګوندونو(خلق او پرچم ) د واکمنۍ پر وړاندې افغان ولس جهاد ته ملا وتړله او یو ځل بیا په هېواد کې ناامنۍ پیل شوې.

د ۱۳۵۸ کال د مرغومي په شپږمه د وخت د شوروي اتحاد په پر مخ تللو وسایلو سمبال لښکرو پر افغانستان یرغل وکړ ، خو افغان اولس یې پر وړاندې ودرېد او ترهغه یې خپل جهاد ته دوام ورکړ ، چې د یرغلګرو پوځونو غرور یې مات او د ۱۳٦۷ کال د تلې میاشتې په ۲٦مه، یې له افغانستان څخه ووېستل .

د شوروي د پوځ د یرغل پر مهال دمرګ ژوبلې کره شمېره نه ده معلومه ، خو ویل کیږي، چې تر یو میلیون زیاتو افغانانو په کې خپل ژوند له لاسه ورکړ، په میلیونونو مهاجر شول ، د هېواد بنسټونه په کې له منځه لاړل او ۱۵۰۰۰ شوروي پوځیان هم په کې ووژل شول.

د یادو پوځیانو تر وتو وروسته د شوروي په ملاتړ جوړ شوی د ډاکټر نجیب الله رژیم افغان مجاهدینو رانسکور کړ او د ۱۳۷۱ کال د غويي په ۸مه، د جهادي ګوندونو په سلا حضرت صبغت الله مجددي واک ته ورسېد.

خو ډېر وخت نه و تېر شوی ، چې د مجاهدینو د بېلابېلو ګوندونو تر منځ د واک د ترلاسه کولو لپاره خپلمنځي جګړې پیل شوې او په دې جګړو کې د نجیب د رژیم د جنرال دوستم ملېشې هم ورګډې شوې.

په ۱۳۷۳ کال کې د طالبانو حرکت په هېواد کې د ګډوډیو د له منځه وړو او اسلامي ارزښتونو د خوندي کولو له ژمنې سره په کندهار کې په فعالیت پیل وکړ او تر ۱۳۷۵ کال پورې یې د پلازمېنې کابل په ګډون دهېواد ډېر ولایتونه لاندې کړل او د چارو واګې یې تر لاسه کړې.

د القاعده سازمان مشر اسامه بن لادن، چې د سعودي عربستان اصلي اوسېدونکی دی او د شورویانو پر وړاندې د افغان مجاهدینوتر څنګ ولاړ و ، هم له وسلوالو طالبانو سره ملګری شو.

خو اسامه بن لادن د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱مې په پېښو کې د امریکا لخوا په لاس لرلو تورن شو او امریکا له طالبانو وغوښتل چې هغه ( اسامه ) له افغانستان څخه وباسي.

خو کله چې طالبانو د امریکا غوښتنه ونه منله ، د همدې کال د اکتوبر په میاشت کې یې پرطالبانو لومړی هوایي او بیا د شمالي ټلوالې په مرسته ځمکني بریدونه وکړل او د طالبانو واکمني یې راوپرځوله.

د افغان دولت د وسلوالو مخالفینو او القاعده د له منځه وړو لپاره د نړۍ د ٤٦ هېوادونو ٤٢٠٠٠ پوځیان د امریکا له تر سل زرو زیاتو پوځیانو سره ملګري شوي ، خو ددې پوځونو په شتون سره نه یوازې په هېواد کې امنیت ټینګ نه شو ، بلکې ددې ځواکونو او افغان دولت وسلوال مخالفین ( طالبان ، د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ حزب اسلامي او د حقاني او ځینې نورو ډلو ) پوځي فعالیتونه ورځ په ورځ پراخه شول او د ناامنیو لمن د هېواد له جنوب څخه آن شمالي ولایتونوته هم وغځېده.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما د ۲۰۰۹ کال د مارچ په میاشت کې د افغانستان او پاکستان په اړه د نوې ستراتیژۍ د اعلانولو پر مهال د یادو دواړه هېوادونو حالات ډېر خطرناک وبلل.

اوباما د همدې کال په ډسمبر کې وویل چې د ۲۰۱۱ کال د جولای په میاشت کې به له افغانستان څخه د خپلو پوځیانو وتل پیلوي. ناټو ځواکونوهمتر۲۰۱۴ز کالپورې افغان سرتېرو ته د امنیتیچارود ورسپارلو وروستۍنېټه ټاکلې ده.

په افغانستان کې د دولتونو ډولونه:

الف حکومت:

محمد داوود د ۱۳۵۲ کال د چنګاښ په ۲٦مه ، د افغنستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د شاهي نظام پر ځای جمهوري نظام رامنځته کړ او تر دې وروسته هم پرته له طالبانو څخه، چې اسلامي امارت یې اعلان کړی و، نور نظامونه جمهوري وو، خو د حامدکرزي تر منتخب حکومت پرته نور د پوځي حرکتونو او کودتاګانو له لارې رامنځته شوي دي .

محمد داوود د سپیني کودتا له لارې واک ته ورسېد او محمدظاهر شاه یې له ملک څخه تبعید کړ. د محمدداوود رژیم هم د شوروي پلوه خلق او پرچم ګوندونو لخوا د خونړۍ کودتا له لارې له منځه ولاړ، داوود یې د کورنۍ له غړیو سره یو ځای وواژه او پر ځای یې نورمحمد تره کی د جمهور رییس په توګه اعلان کړ.

تره کی ، چې د خلق په ګوند پورې یې تړاو درلود، د ۱۳۵۸ کال د وږي په میاشت کې په ارګ کې د ننه ددې ګوند د بل غړي حفیظ الله امین د پلویانو لخوا په مرموز ډول ووژل شو او امین ، چې تره کي به ورته وفادار شاګرد ویل ، د جمهور رییس په توګه په کار پیل وکړ.

خو کله چې د شوروي ځواکونو پر افغانستان یرغل وکړ ، امین یې د کابل ښار په دارلامان کې وواژه او پرچمی ببرک کارمل د شوروي پوځونو په ملاتړ واک ته ورسېد .

د ۱۳٦۵ کال په غویي میاشت کې کارمل د ګوند د مرکزي کمېټې له ریاست څخه استفعا ورکړه او د همدې کال د لړم په میاشت کې له جمهوري ریاست څخه هم لرې شو او ددې ګوند بل غړی نجیب الله قدرت ته ورسېد .

د نجیب د واکمنۍ پر مهال د شوروي پوځونه له افغانستان څخه ووتل او د ۱۳۷۱ کال د غویي په اتمه د نجیب حکومت هم راوپرځول شو او صبغت الله مجددي د جهادي ګوندونو په مشوره د اسلامي دولت د ممثل په توګه وټاکل شو.

د جهادي ګوندونو له سلا سره سم دوه میاشتې وروسته د جمعیت اسلامي د ګوند مشر برهان الدین رباني ته واک وسپارل شو او د ۱۳۷۱ کال د غبرګولي په نهمه رباني د اهل حل وعقد د شورا لخوا د دوو کلونو لپاره جمهور رییس وټاکل شو.

خو رباني خپلې واکمنۍ ته دوام ورکاوه ، چې په ۱۳۷۵ کال کې طالبانو کابل ونیو او اسلامي امارت یې اعلان کړ. خو د طالبانو واکمني د امریکا د پوځي برید له امله له منځه ولاړه او حامد کرزی د بن په غونډه کې د شپږو میاشتو لپاره د لنډمهالي ادارې د مشر او بیا د بېړنۍ لویې جرګې لخوا د دوو کلونو لپاره د انتقالي ادارې د مشر په توګه وټاکل شو.

د افغانستان اوسنی اساسي قانون ، چې له مخې یې د هېواد نظام اسلامي جمهوري دی ، د ۱۳۸۲ کال د مرغومي په ۱۳مه، د لویې جرګې لخوا تصویب شو. ددې قانون له مخې ، د افغانستان د دولت په تشکیل

کې منتخب ولسمشر، د هغه دوه مرستیالان ، له دوو مجلسونو ( ولسي جرګې او مشرانو جرګې ) څخه جوړه ملي شورا او قضایي قوه ځای لري . د ستریمحکمېغړید ولسمشرله لوري ټاکل کېږي او ولسي جرګه ورته د باور رایه ورکوي .

ولسمشر او مرستیالان یې د خلکو په مستقیمه رایه اچونې د پنځو کلونو لپاره ټاکل کېږي. که چېرېهېڅیوهکاندید پهلومړيپړاوکې د ټولټاکنوپه پروسه کې ۵۰ سلنه جمع یورایې تر لاسه نه کړي، نو دوهکاندیدان ، چېتر ټولو ډېرې رایې يېترلاسه کړېوي،د دوهم پړاو لپاره د ټولټاکنوپه پروسه کېبرخه اخلي. ولسمشرد ولسمشرۍ د دوودورولپاره ځان کاندیدولی شي .

د ولسمشرۍ لپاره د افغانستان لومړۍ ټولټاکنې د اته میلیونو تنو ، چې نږدې نیمایي یې ښځې وې په ګډون د ۱۳۸۳ لمریز کال د تلې په ۱۸مه ، تر سره شوې او حامد کرزی د ٥٤سلنه رایو په تر لاسه کولو سره ولسمشر وټاکل شو.

کرزی د ۱۳۸۸ کال د زمري په ۲۹مه، د ولسمشرۍ د دوهم پړاو په ټاکنو کې هم په داسې حال کې د پنځو کلونو لپاره ولسمشر وټاکل شو، چې په ټاکنو کې د درغلیو په اړه ډېر شکایتونه موجود و.

مرکزي دولت، په کلیوالو سیمو کې لږ اغېز لري، ځکه چې اسلامي او دودیز ضوابط، د قومي او توکمیزو فعالیتونو په ګډون په شخصي کړنو او د شخړو په حل کې مهمه ونډه لري. افغاني ټولنه د قومي او اسلامي دودونو په درلودلو سره په پراخه توګه د خپلوۍ پر بنسټ ولاړه ده، سره له دې چې په ښاري سیمو کې دا کچه یو څه ټیټه ده.

ب : ملي شورا ( پارلمان )

په افغانستان کې د ملي شورا لپاره لومړنی کوښښ د امان الله خان په وخت کې پیل شو. په دې دوره کې د دولت لومړنی قانون (د دولت اساسي نظامنامه په افغانستان کې) د لویې جرګې لخوا تصویب او په دې قانون کې د دولت د شورا په نامه وړاندوینه شوې وه.

د نادرخان د واکمنۍ پر مهال ملي شورا د (۱۳۰٤لمریز) کال په وړي کې جوړه شوه ، خو مشر یې ( د وردګو استازی عبدالاحد مایار) نادرخان په خپله وټاکه.

وروسته له هغه ، چې نادرخان د يو زده کوونکي لخوا په ۱۳۱۶هـ ش کال کې د تومانچې په ډزو *ووژل* شو،د هغه ۱۹کلن زوی محمدظاهر د افغانستان د شاه په توګه وټاکل شو ، خو عملا د چارو واګي د صدراعظم محمدهاشم خان سره وې.

د هاشم خان د صدارت په دوره کې (۱۳۱۲- ۱۳۲۵شمسي) د پارلمان دويمې، درېيمې، څلورمې، پېنځمې او شپږمې دورې خپل کار ته دوام ورکړ.

ځينې مورخين ليکي ، چې د شاه محمود د صدارت په دوره کېد پارلمان اووم دور ( د ۱۳۲۸- ۱۳۳۱ کال پورې ) په ټاکنو کې حکومت هېڅ ډول مداخله ونه کړه او ډېرو خلکو په کې ونډه لرله.

د مخکې پارلمانونو پر خلاف په دې دوره کې د دولت په کارو انتقاد کېده او جدي بحثونه په کې کېدل ، خو تر دې وروسته د ډيموکراسی تر لسيزې (۱۳۴۲- ۱۳۵۲) ملي شوراګانې تر ډېره د حکومت تر اغېز لاندې وې.

د ډيموکراسی په لسيزه کې د ۲۱٦ غړيو لرونکې ملي شورا د اوس په څېر دوه مجلسونه ( ولسي جرګه او مشرانو جرګه ) لرل.

مورخين ليکي، چې دغې ملي شورا د پخوانيو شوراګانو په پرتله د قانون د وضع کولو او تصميمونو د نيولو ډېرتوان درلود.

خو په ۱۳۵۲ کال کې د داوود خان په جمهوري نظام کې پارلمان لغوه شو او په هېواد کې تر هغه پارلمان نه و ، چې ډاکتر نجيب الله په ۱۳٦۷ کال کې د ملی روغې جوړې تر اعلان وروسته رامنځته کړ .

ځينې مورخين ليکي ، چې د نجيب د وخت پارلمان د حزب او حزبي حکومت تر نظارت لاندې کار کاوه او په عمل کې يې خپلواکي نه درلوده.

د برهان الدين رباني او طالبانو د واکمنيو پر مهال په هېواد کې ملي شورا نه وه ، خو د طالبانو د رژيم له ړنګېدو وروسته د نوي اساسي قانون پر بنسټ د ولسيجرګېد ۲۴۹غړيو د لومړۍ دورې ټولټاکنېد ۱۳۸٤ کال د وږي په ۲۷مه،ترسره شوېاو دوهم دوربه ييدروان کال ( ۱۳۸۹ ) د وږي په ۲۷مه، تر سره شي.

د ۱۳۸٤ کال د ټاکنو له لارې رامنځته شوې شورا کې د هېواد د بېلابېلو ولایتونو استازي ، چې د بېلابېلو سیاسي مفکورو خاوندان دي ، ګډون لري ، چې ځینې یې په ګوندونو پورې تړلي دي .

**ولس:**

د افغانستان ټولنفوس نږدې۲٦میلیونه اټکل شوی دی ،چی له۷نفرو څخه یو یې‌په کابل کېژوند کوي. کندهار ښار په دوهمه درجه کېراځي،چی نفوس يې‌تر نیم میلیونوڅخه زیات دی، ورپسې‌ هرات ښار پهلوېدیځ کېاو مزار شریفښارپه شمال کې او د جلال ابادښار په ختیځ کې لوی ښارونه دي.نږدې۲،٥میلیونهثبت شویافغانکډوالپه پاکستان او ایران کې تراوسه مېشت دي .

د پښتو، دري، اوزبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه يي، نورستاني او په هېواد کې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي.

په افغانستان کېد جنسیت تناسب د هرو۱۰۰ښځو په پرتله۱۰۳،۲نارینه دي او د کورنیو منځنی کچه ٦،۳ تنهدی.

**مذاهب:**

د افغانستان د نفوس په سلو کې له ۹۹څخه ډېر یې مسلمانان دي،چی۸۰په سلو کېسني، ۱۹په سلو کېشیعه او یو په سلو کې د نورومذهبونو پیروان،لکه هندوان ،سکاناو ډېر کم عیسویان جوړوي.

**ښوونه او روزنه :**

په ملیکچهپه هغو کسانو کې ، چې تر ۱۵کلونو لوی دي، د لوست لیک اندازه ۳۴په سلو کې ده ، د نارینه وو په منځ کې د سواد کچه ٤۳،۱ په سلو کې او په ښځو کې بیا دغه کچه له۱۰څخه تر ۱۵په سلو کې ده.

د هېواد په کچهتر ۱۳۸۹ کال پورې ، له۷میلیونو څخه ډېرې نجونېاو هلکان په ښوونځیو کی شامل شوي، خو د پوهنې وزارت وايي چې لاهم په هېواد کې پنځه میلیونه ماشومان ښوونځیو ته لاسرسی نه لري.

دغه راز د ښوونېاو روزنېپه ډګرکېد پام وړ ستونزې لکه دپانګې او ښوونحیو دودانیونشتوالی، ،کولتوریدودونهاود مسلکی ښوونکیو کموالی په ځانګړې توګهپه کلیوالوسیمو کې شتون لري.

دا په داسي حال کې ده،چېزده کړه وړیا ده او لومړنۍ زده کړېلازمي دي، خو زده کړې ته لا سرسی یوهستونزه ده. یواځې ٤،١٧سلنهماشومان په خپل کلیکی لومړنیوښوونځیو ته لاسرسی لریاو ٣٧سلنهباید ٥کیلومترهسفر وکړي،چی نړدېښوونځیو ته د زده کړې لپاره لاړ شي ٩،٢٩سلنهزده کوونکیباید له١٠کیلومترو ډېرمزل وکړي،ترڅو ښوونځیتهورسېږي.

د منځنیوښوونځیو ستونزېهم لومړنیوښوونځیو ته ورته دي. ددې ښوونځیو ٧،٧سلنهزده کوونکیپه خپلوکلیوکېښوونځیلریاو ۴١سلنه زده کوونکیباید له١٠کیلومتره ډېرمزل وکړي،ترڅو ښوونځیتهورسېږي.

د لېسو حالت تر دېهم خراب دی،ځکه چیله٥څخه ٣زده کوونکي یې باید له١٠کیلومتره ډېرمزل وکړي،ترڅو ښوونځیتهورسېږي او یواځېله٥څخه یوماشوم په ٥کیلومترۍکی لېسه لري.

د طالبانو په واکمنۍ کېد نجونو دولتيښوونځیله منځه تللیوو، خو اوسشاوخوا ٣٤ سلنه زده کوونکېنجونېدي او د ١٧٥ زره ښوونکیو ٣٠ سلنه ښځې جوړوي.

**د یونیسف** په اټکل په سلو کې له اتیاڅخه ډېرېماشومې نجونې‌اونړدې٥٠په سلو کې نارینه ماشومان د ښوونیزومرکزونود لاسرسیلهنشتوالیسره مخ دي .**د**پوهنې وزارت په وینا، دا مهال (د ١٣٨٩ کال د وږي په ١٠مه ) د هېواد په کچه ٤٢٠ ښوونځېد ناامنۍله امله تړلشویدي.

**روغتیا:**

د مړینېکچه په افغانستان کېد نړۍپه سطحه ډېره لوړه ده،له٥څخه یو ماشوم له٥کلنۍڅخه مخکېمریاو له٨څخه یوهښځه د نسایي او ولادیستونزو لهاملهمري. د افغانستان لهټولنفوس څخهتر ٧٠سلنه زیات **پاکو اوبو** ته لاسرسۍنه لري. د ژوند منځنۍ حد د ښځو او نارینه وو لپاره په افغانستان کې۴۴کاله اندازه شوی دی. په ١٣٥٧ کال کې په افغانستان کې له پیل شویو جګړو مخکې افغان ولس یو اصلاح شوی روغتیاییسیستم او په ښارونوکې،لکه کابلکې یو نیمه پرمختللی د **پاملرنېروغتیاییسیستم** درلود. دروسانو د بریداو د کورنۍجګړو په ترڅ کېد روغتیاییپاملرنېسیستم یواځېپه ښارو کېپاتېشو،چې وروسته په پوره توګه له منځه لاړ .

شاوخوا ٣٠کاله پرله پسېجګړو نږدېیو میلیونافغانان په هېواد کې معلول کړي او نږدي٨٠٠٠٠وګړیو د ماینونو له املهخپلېپښېله لاسه ورکړي،چی دا په نړۍکې تر ټولو لوړه کچه ده .

له۱۳۸۱کال څخه وروسته په هېواد کې روغتیاته دپاملرنېسیستم د نړیوالې ټولنې په مرستو پرمختګ وکړ او تر اوسه ګڼ شمېر دولتي او نادولتي روغتونونه او نور روغتیایي مرکزونه په هېواد کې جوړ شول.

خو سره له دې هم په ښارونو کې ۹۰ سلنه او په کلیوالو سیمو کې ٦٥ سلنه خلک اساسي صحي خدمتونوته لاسرسی لري.

**اقتصاد:**

افغانستان یو کرنیز او مخ پر ودې هېواد دی.د افغانستان عمده صادرات تازه او وچه مېوې، غالی، وړیاو تریاک دي. په وروستیو کې دولتي چارواکیو ویلي چې افغانستان د درېیو تریلیونوپه ارزښت طبیعي زېرمې لکه ګاز، خام نفت، د ډبروسکاره، مس، کرومایټ، ټالک، باریټ، سلفر، سرب، جست، اوسپنه، مالګه، قیمتیاو نیمه قیمتيډبروپه ګډون نا وېستل شوي توکي لري .

د ۱۳۸٦کال د راپورونو له مخې،د افغانستان د نشه يي توکیو تولید د هېواد د اقتصاد له نیمايي څخه ډېره برخه تشکیلوي، چې د طالبانو د حکومت په وخت کې يې وده کړې وه. د نړۍ په سلو کې له ۹۰ څخه ډېر تریاک چې د هیرویینو خام مواد دي، له دغه هېواد څخه برابرېږي.

رسنی:

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره په ۱۲۹۰ه ش کال کې د امیر شیرعلي خان په سلطنت کې د شمس النهار جریده چاپ شوه او په ۱۲۸۴لمریز کال کې د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال سراج الاخبار چاپ شو، چې د امیرعبدالرحمان خان په وخت کې هم چاپ کېده.

په اماني دوره کې د ارشاد النسوان په نوم د ښځو مجله او انیس ، چې اوس د ورځپاڼې په توګه چاپ کیږي او لسګونو نورې نشریې چاپ کېدې.

په ۱۳۰۷ لمریز کال کې د امان الله خان د واکمنۍ تر له منځه تلو وروسته ،تر هغه چې محمدظاهر په ۱۳٤۳ کال کې دمطبوعاتو ازادي اعلان کړه ، مطبوعات د دولت په سانسور او کنټرول کې و .

د محمدداوود او وروسته د خلق او پرچم ګوندونو د واکمنيو پر مهال مطبوعات د دولت تر سانسور لاندې وو، خو د ډاکټر نجيب د حکومت په وروستيو کې ځينو ګوندونو هم په خپرونو پيل وکړ.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم مطبوعات په بشپړه توګه د حکومت په واک کې و او د دولتي تلويزيونو فعاليت هم درول شوی و.

خو له ۱۳۸۱ کال څخه وروسته ازادو رسنيو ته د فعاليت اجازه ورکړل شوه او دا مهال زيات شمېر دولتي، شخصي او ولايتي (سيمه ييزې ) رسنۍ د شخصي ادارو په لګښت او بهرنيانو په مرسته را منځته شوې دي
.